# موسيقۍ په اسلام اوساينس کي (ديارلسم څپرکی)

عبدالغفارجُبير

## زړۀ اوموسيقۍ:



دموسيقۍ داورېدلوپرمهال دانسان زړۀ ډېراغيزمن کيږی، اوداهغه مهال ترسيوری لاندی راځی چې کله احساسات اوجذبات ډېرشی، دموسيقۍ سره زړۀ خپل حرکت کله بتی اوکله وروکړی، چې دازړۀ له طبعي حالت څخه باسی، اوپه دغه وخت کی زړۀ يوغيرمتوازن حالت غوره کوی، ياپه بل عبارت د زړۀ ناروغه اوغيرسالم دی، اوددې سره دزړۀ تکليفونه لانورهم مخ په وده ځی؛ دعامی موسيقۍ ضربان په يوه دقيقه کی 70- 80 پوری دی، اواوس چې دجازموسيقۍ (Jazz Music) چې ډېرمشهوره دی په يوه دقيقه کی ئې ضربان 70 ځله دی، چې دموسيقۍ په اورېدلوسره زړۀ هم خپل حرکتونه ورسره عياروی، چې داوزړۀ ته دکمزوری کېدو،دزړۀ د(والو) دبندېدو سبب ګرځی، دلويديځ يومشهوره پروفيسرډاکټر(Leonardreyer) وايی چې دامنواوداحقيقت دی چې موسيقۍ پرزړۀ ډېرې بدې اغيزې لری، اودزړۀ تکليف لرونکی بايددموسيقۍ سره شناخت ونکړی داځکه چې نتيجې ئې ورته ښې نه دی.

## دموسيقۍ اغيزې پرغوږونواوداورېدلوپرتوان(قوت سامعه) باندی:

دموسيقۍ دډېرواورېدلوسره داورېدلوتوان(قوت سامعه) له مينځه ځی، اوياهم ډېره کمزورې کيږی، دامريکادلاس انجلس دغوږونودځيړنوديوه مرکزدروغتون (House Ear Clinic of st. Vincent Medical Center)يوه ساينس پوهه ډاکټره ريکل کروز(Rachel Crouz) وايی:

په 1960 کال کی دپاپ دموزيک داوريدلوله کبله دزياتوعاموامريکايانوداوريدلوتوان ډېرکمزوری شو، اواوس زموږمشاهده اوتجربه داده چې هغه انجينران اودموسيقۍ کارکونکی چې دموسيقۍ سره اړيکی اوکاردی، دوی داورېدلودکمزوری سره لاس اوګرېوان دی، (Hear is Problem) دمشکلاتوسره مخامخ دی؛ اوداهغه تکليفونه دی چې درملنه ئې ناشونې ده، داځکه چې دسامعې حس يومخ له فعاليته وځی.

(March 2005"New Hear this' Reader*s Digest.194)

دموسيقۍ دکنترول لپاره ځينی خلک دغوږوګوشۍ (Head Phone) استعمالوی، چې موخه ئې داده چې موسيقۍ بايديواځی واورېدل شی اوبس، اوبل څوک ئې وانه وری، چې ددې پايلې بياډېرې خطرناکې اودزهرونه ډکې دی، اوداورېدل پوهنې دعلم(Audio logy) له نظره، دځوان نسل داورېدلودحس دخرابوالې اوکمزوری يواځنی علت اوسبب دغوږوګوشۍ دې، چې ترزهروئې پايلې ډېربدې اوتاربکې دې، دامريکادباستن دپوهنتون (Boston University) داورېدل پوهنې يوتجربه کاره پروفيسرکلارک کاکس (Clark Cox) وايی:

په دې کی شک نشته چې دموسيقۍ لوړاوازاورېدل دانسان داورېدلوحس له مينځه وړې.

دلوړاوازداورېدلوپه وجه نه يواځی داورېدلوتوان له مينځه ځی، بلکې دزړۀ حرکت هم زياتوی، دوينې فشارلوړوی، بې خوابې راولی، تنفسی نظام له طبعي اوعادي حالت څخه باسی، وينه په شريانوکی خرابوی اونورې داسی بدې اغيزې پراعصاباواوتول بدن باندی لری چې بيائې درملنه ناشونې ده.

(March 2005"New Hear this' Reader*s Digest.194)

دهغه مهال راهيسی چې داورېدلوتخنيک (Audio Technology) پرمختګ کړيدی دهغه وخته راهيسی داورېدلوحس کمزوری شوی، اوشکايتونه ئې دوام لری، چې ځينی خلک ورڅخه محروم شوی هم دی؛ چې دااوس يوه نړيواله پېچلې موضوع اوپرېشانی ده، اوپاته دی نه وی چې په پرمخ تللی هيوادوکی ددې تولوناخوالويواځنی علت اوسبب موسيقۍ، دموسيقۍ الات، سپيکران، دکمپيوټرموسيقۍ اودغوږوګوشۍ دې.

اوس ددې بدمرغيودکنترولولپاره يوه اداره هم جوړشوی اوتاسيس شويده، چې د (Noise Free America) په نامه سره يادېږي، اودااداره کوښښ اوپوره هلې ځلې کوی چې لوړه موسيقۍ اولوړاوازونه په قانونی ډول سره بند اوکنترول کړی، اوددې اداري فعال غړی اوانجينران وايی چې دپاپ، جازاونوره موسيقۍ چې په لويديځ کی دود ده، دومره تاوان لری لکه 747 بوئينګ طايره چې ديوسړی دسردپاسه ولاړه وي، اوږغ ئې هم پوره لوړوی، چې داڅومره ديوه انسان اعصاب، جسم، داورېدلوتوان اوهرڅه ته زيان رسوی؛ دااوسنی موسيقۍ هم په دې شان نقصان اوبدې اغيزې لری.

**نوربیا...**
**په اسلامي پاکه مینه**
**ستاسوورور عبدالغفارجُبیر**